له پیشرو نه

۱۰/۱۰/۱۲

## عبدالرحمن محمودي د آزادۍ د لارې مخکښ مبارز

عبدالرحمن محمودی په ۱۲۸۸ کال کې د کابل ښار په تنورسازي کوڅي کې وزیږید. پلار یې د دولت ټیټ پوړی کارکوونکی و او نیکه یې د کتاب پلورلو هټۍ درلوده. محمودي په ځوانی کې هغه کوله چې د خپل بیوزلي پلار د ژوندانه لګښتونه پوره اور ورسره مرسته وکړي. کله چې د هغه مور وفات شوه، هغه لرګي او سکاره پلورل او بل هر مجاز کار یې سرته رساوه څو خپلې کورنی ته یوه مړی ډوډی پیدا کړي.

محمودي له دې تولو ستونزو، کړاونو، لوږې او بیوزلۍ سره سره د کابل طبي پوهنتون ته لاره پیدا کړه او په ۱۳۱۶ کال کې ورڅخه فارغ شو. هغه د یوې مودې لپاره د هرات په روغتون او د څه وخت لپاره د کابل په علي آباد روغتون کې دنده تر سره کړه. محمودي د طبابت تر څنګ سیاست ته هم مخه کړه. هغه چې د خپل ولس واقعي خدمتګار و، غوښتل یې نه یوازې له فزیکي پلوه بلکې له ذهني، تولنیز او کلتوري اړخه هم د خپل ولس درملنه وکړي.

د افغانستان سیاسي او تولنیزو شرایطو محمودي سیاست ته ورننویست. بیوزلي او د هاشم خان حکومت بې ساري ظلم او استبداد نه یوازې محمودي بلکې هر پوه او بااحساسه ځوان پوزې ته رسولی و. په هغه وخت کې د لومړي ځل لپاره میرغلام محمد غبار د «زموږ اقتصاد» تر نامه لاندې لیکنې کې دغه چوپتیا ماته کړه، چې په پایله کې د وزیرانو مجلس لخوا احضار شو. د «اصلاح» ورځپاني مدیر مسؤول محمد قدیر تره کی د نومورې لیکنې د خپرولو په جرم له خپلې دندې لیرې کړای شو. سلطنتي کورنۍ د هر روښن اندي په وړاندې جدي غبرګون ښکاره کاوه، خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته چې په ډیرو هیوادونو کې نویو سیاسي غورځنګونو سر راپورته کړ او ګوندونه جوړ شول، سلطنتي کورنۍ هم مجبوره شوه په هیواد کې دموکراسي اعلام کړي.

ډاکتر عبدالرحمن محمودي د همدې دورې یوه تر تولو ځلانده روښن اندي څیره ده چې په خپلې میرانی او پوهې سره یې وکړای شول نور روښن اندي پر خپل ځان راتول کړي. د هغه شخصیت هومره د پام وړ و چې تولو د هغه وخت تولو مورخانو او روښن اندو ورته احترام درلود.

ډاکټر محمودي د لومړي ځل لپاره د ۱۳۲۷ کال د ښاروالی په ټاکنو کې د افغانستان سیاسي ډګر ته ورننوت. هغه په خپلو عمومي ویناو کې انتقادي خبرې مطرح کولې چې د کابل ښاریانو له تود هرکلي سره مخامخ کیدو. دې کار د محمودي ټولنیز ارزښت په ډاګه کړ، خو په کراتو د خپلو انتقادي او تندو ویناو له کبله بندي شو.

کله چې هاشم خان له حکومت څخه لیرې شو او شاه محمود خان د هغه پر ځای واک ته ورسید، سیاسي فعالیتونو ته وخت ورکړل شو. سیاسي ګوندونو او آزادو خپرونو یو په بل پسې سر راپورته کړ. د «ویښ زلمیانو ګوند» د محمد رسول خان پښتون په مشرۍ جوړ شو، «حزب وطن» د میرغلام محمد غبار لخوا تاسیس شو او عبدالرحمن محمودي هم د «حزب خلق» بنسټ کیښود. له هغه ځایه چې هغه تل د ولس او بیوزلو فکر درلود، له دې کبله یې د خپل ګوند نوم «حزب خلق» او د جریدې نوم یې «ندای خلق» کیښود. د دغې خپرونې د امتیاز خاوند په خپله محمودي و.

ډاکټر عبدالرحمن محمودي د ملي شورا په اوومې دورې کې (۱۳۲۸ تر ۱۳۳۱) د کابل ښاریانو ۱۴۰۰۰ رایې خپلې کړې او پارلمان ته یې لاره پیدا کړه. هغه په پارلمان کې د سلطنت لخوا د ظالمانه قوانینو په وړاندې په میړانه ودرید او تل به یې له دموکراسی څخه ملاتړ کاوه. محمودي د دغې شورا په اتمې دورې کې له ټاکنو څخه دوه ورځې وړاندې بندي شو. محمودي د شورا د اتمې دورې (۱۳۳۱ تر ۱۳۳۳) له پیلیدو څخه وړاندې یو وار بیا د ټاکنیزو سیالیو پر مهال د سلطنتي نظام په وړاندې تندې او انتقادي خبرې وکړې چې نظام زغملی نشوې. له دې کبله، هغه له شپاړلس نورو مبارزانو سره یو ځای د ۱۳۳۱ کال د چنګاښ په ۱۸ بندیان شول.

میرغلام محمد غبار او د وطن ګوند یو شمیر غړي او ډاکټر رحیم محمودي کلونه په زندان کې پاتې شول. یوازې څوک چې تر پایه په زندان کې پاتې شو، هغه محمودي و، هغه هیڅکله تسلیم نشو، او سره له دې چې سخت ناروغ و، پر خپل فکر او باور تر پایه ولاړ و. ویل کیږي چې هغه په زندان کې «خپل نظرات د پیازو په اوبو او د ګوګړ په ډکې لیکل او د خپلې بسترې لاندې یې پټ ساتل». محمودي له خوشې کیدو وروسته لا یوه اونۍ په کور کې تیره کړې نه وه چې د علي آباد په روغتون کې د تلې په دویمه نیټه د تل لپاره سترګې پټې کړې.

ډاکټر عبدالرحمن محمودي د افغانستان د مبارز او روښن اندي غورځنګ یوه تر ټولو ځلانده څېره ده چې د لومړي ځل لپاره یې په هیواد کې د پرمختللي او مترقي غورځنګ بنسټ کیښود. د محمودي د کورنۍ زیات غړي لکه رحیم محمودي، هادی محمودی، لطیف محمودي، عبدالله محمودي او یو شمیر نور د هغه د فکر او اندیښنې لارویان پاتې شول.